# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


بسمل
۱۱.۰۴.۱۰

## جګړه بس کړئ چې ماماګان ووزي،
## داهم دبناغلي کرزي منطق دی؟؟







**قدرمنو لوستونکو!**

**نن ارګمشر حامد کرزی** دناټو او امریکایي ځواکونوعمومي قومندان جنرال سټنلي مک کرسټل **جوړه د کندوز ولایت ته ورسېدل .**
**هلته يې په داسې حال کې له وسلوال مقاومت څخه دجګړې دختمېدو غوښتنه کوله چې دناټوجنګي الوتکو** د چهاردرې ولسوالي د شیخانو او للمدین په کلیو پرله پسې بمونه وورول .
دحیرانتیا وړ خو لا دغه ده چې هلته په ملکي وګړوسرې لمبې بل دي، دلته حاجي ؟؟ کرزی وسلوالومخالفینو ته وایي چې **جګړه ژر بس کړئ ترڅوداراغلي نابللي ژر تر ژره ووزي .**
**مانا راشئ زما په شان د شمال له جنګي جنایتکارانو سره څنګ پر څنګ کښېنئ نو به ښکېلاکګر ژر ووزي .**
**واوا دا دی د ننني مشرمنطق ؟؟**
**تاسې باور وکړئ چې ما په دا خپل عمر دومره مکار او عوام فریب نه و لیدلی، هغه داپریل اپریل په ورځ یې چې دزې وکړې نوسم له لاسه یې خپلو واکمنانو له واشنګټنه تر لندنه په ډېره بیړه غبرګون وښود،**

خپل رالیږلي ورانوونکي یي پرحق خوکرزی یی گرم وبالـه دانن لـه واشنگټنه بیا دمېرمن کلینتن اوګېټس ناري خپرې سوې چې نه نه بس همدا کرزی زموږ خپل سړی دی بې له ده پر بل چا اعتماد نـه کوو،هغه بل اوباما خو لا ورمه ورځ مننلیک ورته رالیږلی و.

## عجیب وخت او عجیب مشران؟؟

**کړېدلو افغانانو!**

**د تېرې پنجشنبې په ورځ مې دازادي راديو، ازادي په څپو پروګرام کی پـه زغرده ووېل چـې دا دکرزي یوه عوام فریبي ده دایوه داسي غولوونکي لوبـه ده چې دوارو خـواوو د افغان ولـس او نړیوال عامـه ذهنیت د اړولو لپاره پلان کړې ده .**

**اوس به دکرزي اپريل هلته پرېږدو را به شو دې ته چې اخبر به څه کوي؟**

**زما خو یي ونه منله پېزوان په پوزه له چین څخه راستون شو کـه نـه ما خومخکي لـه دې چې چین تـه ولاړ شي د رسینیوله لارې ورتـه سمه لار ښوولي وه چـې پـه چین کی پاتـه شـه بس هلتـه سیاسي پناه واخله څو هم له اسارته خلاص شي ، هم دخپل مظلوم ولس لـه ښېراوو او هم پـه راتلونکي کی د ربښتیا پاچا شي .**

**دا چې کرزی تش په نامه ولسمشري ته خوښ دی اوپه هیڅ قیمت یي نـه پرېږدي دا دده خپل کـار دی هغه متل دی وایي چې (پهلوان زنده خوش است) دی پوه شه او هوائي ولسمشري یـي خو زمـا دری پوښتني دي راځواب کړي :**

**۱ـ داستا ترمشري لاندې ګډه وډه،له فساده ډکه اداره او په افغان مقاومت کې ننوتلي مغرض کسان لـه یوې خوا څخه نه تمولېږي؟**

**۲ ـ داننني سپین سترګي ښکېلاکګر اوورسره اشرباني یي ستا په استحکام او اسامه پسې راغلي کـه تاسي یي وسیله کړي یاست څوسیمه ترسینه لاندې او د پخواني دښمن ( روس) تر ګرېوانه پورې ځانونه ور ورسوي؟**

**۳ ـ که دې زمانه مشورې سره سم په چین کي سیاسي پناه اخیستې اوهسې دې یوڅو افغانان دمقاومت پـه نوم را تنظیم کړي وای دا د نړۍ په سیاسي وضعیت کې به بدلون نه و راغلی مانا سرو جګړه بـه نـه وه پیل شوې؟**

**یادونــــــــــــه :**

**موږ دافغان مقاومت هغه برخه ربښتیني بللای شوکومه چې دملي ګټو، ملي ناموس اوخپل پلرني ګران هیوادد استقلال لپاره جنګیږي .**

**ـ زما له نظره د سرې جګړې پیل څکه زموږ په ګټه دی چې دا اوسني زورورهیوادونـه بـه سره ښکر پـه ښکر شي**

**دوه یا درې زورورې خواوې به رامینځ ته شي، داد تروریزم اوسنی ببولالي بـه پـه سیندلاهوشي هسې هم اوس بربنده شوی ده چې داترهګر دچا زېږنده، د څه لپاره او د چا لخواتمویلیږي؟**